# ادب کښې د افاقيت مسئله

**The nexus of literature in universility**

اصل مرجان (محب وزير)*

**Abstract:**

Author of this paper has thoroughly deliberated critics regarding universalism He opines that although universalism is one of the basic values of literature yet it has been made controversial. As, some of the writers completely ignore ground realities of these controversies and their writings lack any connection or interest to their motherland, nation and nationalism. In this article, the writer has strived to provide authentic replies and arguments to the criticism raised and to avoid concerns of the writers so as to give due importance to the ground realities.

افاقي څۀ شی دی او حادثاتي يا وختي څۀ ته وايي ؟. افاقي کوم څۀ دي او جغرافيايي څۀ ته وايي ؟ دا پلانی موضوع افاقي ده او دا پلانۍ حادثاتي. دا قسمه پوښتنې او بحثونه د اردو او پښتو د نقادانو او تخليق کارانو پۀ خپل منځ کښې وخت پۀ وخت مبحث شوي دي او مبحث کېږي. دا مهال دا شخړه لاحل شوې نۀ ده او نۀ زۀ پۀ دغه خوش فهمۍ کښې يم چې ګني زما پۀ دې ليکنه به دا مسله حل شي. البته پۀ دغه ترڅ کښې فقط د خپل دريځ د وړاندې کولو هڅه کوم.

د افاقي معنا عالمي، نړيوال، وسيع ده. د افاق نه وتی ټکی دی او افاق د افق جمع ده. د افق معناد قلندر مومند د درياب ترمخه ,,کناره... غاړه... هغه ځای چې اسمان او زمکه د يو بل سره لګېدلي ښکاري.،، (۱) نو د افاق مطلب دا چې د نړۍ د يوې غاړې نه تر بلې غاړې پورې، د يو افق نه تر بل افق پورې. د ادبي اصطلاح ترمخه هغه موضوعات او خيالات او تصورات چې د ټولو انسانانو پۀ ګډه ميراث بللی کېږي، د ټولو د پاره يو شان اغېزمن وي، د ټولو د احساساتو او خواهشاتو ترجمان وي. هره هغه موضوع، ستونزه او واقعه چې د کومې

---

* Lecturer, in Pashto Government Degree College kotka Habibullah F.R. Bannu

مخصوصې حادثې سره يې څۀ تړون نۀ وي، وختي نۀ وي او د يو خاص وخت سره يې تعلق نۀ وي، بلکې د دې اپوټه دوامداره وي او سدا بهار وي. بل مقصد يې دا راولاړېږي چې هره هغه موضوع او ستونزه، واقعه او خبره چې يو خاص جغرافيايي حد بندۍ کښې نۀ راځي، بلکې د هر ملک او د ګردې نړۍ د انسان شريکه ستونزه او مسله وي.

وړاندې ذکر شوی دی چې جګړه د افاقي او حادثاتي يا د افاقي او جغرافيايي تر منځ ده. خو دا بحث د موضوعي او معروضي تر نومونو شوی دی، د داخل او خارج نومونه ورکړي شوي دي، د فرد او اجتماع تر عنوان لاندې چيړلی شوی دی، د جديديت او ترقي پسندۍ پۀ نومونو شوی دی او که خبره نوره اوږدوو نو د جذبې او د عقل نومونه هم ورکولی شو. نومونه ورته بدل کړي شوي ضرور دي، ولې بنيادي مسله اکي يوه ده. نو ځکه يې مونږ پۀ نومونو پسې نۀ ځو. بنيادي شخړې ته راځو.

د افاقي شاعرۍ پۀ لړ کښې تر ټولو وړومبی عشق ته د يو دوامي توکي پۀ حيث اهميت ورکولی کېږي. عشق همېشه شوی دی او کېږي به. دا د نړۍ د هر انسان ضرورت هم دی او د هرې ژبې د شاعرۍ بنسټ هم پۀ عشق کښېښودلی شوی دی.

اوس دا کتل دي چې عشق څنګه کېږي؟، د چا سره کېږي؟ او پۀ کومو وختونو کښې کېږي؟. د مارکسي فلسفې سره سره هر چرته اوس دا منلی شوی حقيقت دی چې د عشق دويم نوم افاده دی. هر هغه شی چې د انسان د مفاداتي نظام سره سمون خوري، هغې پۀ لوري د انسان توجه راګرځي. او ورو ورو پۀ کښې دلچسپي اخلي. او چې دا دلچسپي يې لړه زياته شي، نو عشق ورته ووئيل شي.

زما د فکر پۀ اساس د انسان د مفاداتي نظام پۀ اولنو شيانو کښې تر ټولو اهم خېټه ده دويم ازادي ده او دريم زمکه ده، پۀ کومه چې هغه د خېټې د ډکولو د پاره لاس او پښې وهي او چرته چې دیٓ د فرصت پۀ وختونو کښې سر لګوي، لکه کور او بيا د کور سره تړلي نور ضرورتونه، پۀ کور کښې تېر کړی وخت (تاريخ) او کلی کلوبغي، حجره، جومات (مذهب يا روحانيات)، د ټولنې سماجي او سياسي نظامونه. (کلتور)

ممکن ده چې زما د دې بیان کړي شوي مفاداتي نظام سره د ځنو نقادانو او تخلیق کارانو اتفاق نهٔ وي او د دوي پهٔ خیال خبته نه، بلکې محبوب (یوه ښائسته جینۍ یا بیا یو ښائسته هلک) د زیات اهمیت وړ وي. او دا هم ممکن ده چې د ځنو د پاره خدای او د هغهٔ د رسول مینه ډېر مهم وي یا د وګړي (فرد) ازادي ورته مهم وي، خو دا مسلم حقیقت دی چې هر کوم څیز ورته هم مهم لیدهٔ شي، انسان تر ټولو اول د هغه څیز طلب کوي او د هغه څیز سره عشق کوي او عشق لکه ورانډې چې مونږ وئیلي دي چې افاقي حېثیت لري، دوامداره دی او سدا بهار موضوع ده. نو اوس دلته بیا نور ډېر سوالونه راولاړېږي.

د مثال پهٔ توګه هغه تخلیق کار چې محبوب د انسان د مفاداتي نظام تر ټولو وړومبی توکی ګڼي چې یا خو یو انسان دی (هغه که پېغمبر ولې نهٔ وي) او یا بیا خدای، او د هغه سره مینې ته افاقي وایي او یو بل تخلیق کار دی څوک چې خېته د انسان د مفاداتي نظام تر ټولو اول شی ګڼي او د خېټې د ډکولو د لوازماتو سره بیا مینه هم لري، ته حادثاتي ولې وایي یا یې جغرافیایي ولې ګڼي؟ یا د زمکې، خاورې، کور او کلي سره مینه لري، وربانډې ویاړي او پهٔ سندرو کښې یې یادوي، څنګه افاقي موضوع نهٔ ده؟ ګر چې عشق پهٔ دواړه صورتونو کښې یو برابر شوی دی. تر دې چې زمکه خو د ډاکټر عبادت برېلوي د وېنا ترمخه:

"د ادیب خمیر د زمکې نه اخستی شوی وي. د هغهٔ او د هغهٔ فني وده په هم دغه زمکه ترسره کېږي. ځکه هغه د زمکې خبرې کوي او د زمکې پهٔ معاملاتو د خپلو تخلیقاتو بنستونه ودروي". (۲)

دارنګې د یو تخلیق کار له خوا کارول شوې مجرده ازادي یا د وګړي ازادي یا ځانګړې ازادي افاقي موضوع ده او د بل تخلیق کار پهٔ تخلیق کښې د ټولنې یا کلي یا اجتماع ازادي ته اولیت ورکول کېږي، افاقي موضوع ولې نهٔ ده؟ ګرچې عشق پهٔ دواړه صورتونو کښې یو برابر شوی دی. او مجرده ازادي یا ځانګړې ازادي د محمد حسن عسکري د وېنا ترمخه:

".... وګړی د ټولنې د پاره نه، ټولنه د وګړي د پاره. وګړي ته په خپل ژوند پوره پوره ازادي په کار ده، په وګړي د ټولنې او ریاست ټینګښت کم نه کم په کار دی. خو په هغه وخت کښې سرمایه دارانو ته په معاشي معاملاتو کښې خپل واکي او ازادي په کار وه، ځکه په نولسمه پېړۍ کښې دغه نظریې ته اهمیت ترلاسه شوی دی.،، (۳)

او چې خبره د ټولنې کېږي، نو دا ټولنه که د پښتنو وي یا که د یونانیانو وي. د مسلمانانو وي یا که د هندوانو وي. د آسیا وي یا که د یورپ وي. د هغې به خپل یو مخصوص کلتور وي او کلتور که د قامونو هر څومره جدا جدا وي، ولې د ممتاز حسېن په خیال::

,,د هرې ټولنې کلتور د نړیوال تهذیب بنسټ ته قوت بخښي او د هغې نه وده مومي.،، (۴)

د پورته ذکر شوو دواړو حوالو نه به دا اندازه په ښه ډول شوې وي چې ځانګړې ازادي څومره افاقي ده؟ او ټولنېزه ازادي بیا څومره مکاني یا جغرافیایي ده؟

یو تخلیق کار دی چې د خپل داخل یا ذات د مایوسیو او تنهاییو د اظهار وظیفه ترسره کوي، هغې ته د افاقیت نوم ورکولی شي او بل تخلیق کار دی چې د خپل ځان سره سره د ټول ماحول (خارج) د اظهار وسیله جوړېږي، هغې ته بیا حادثاتي یا وختي یا جغرافیایي وئیل کېږي. ګر چې عشق په دواړو صورتونو کښې یو برابر شوی دی. ګني کوم تخلیق کار چې د ذاتي مایوسیو او تنهاییو تذکرې کوي، نو د هغۀ دغه مایوسۍ او تنهایۍ د ماحول او سماج د روئیو نه ماخوذ وي. یا به دا ووایم چې ذات څۀ شی دی؟ خو د انساني روحیې (سائیکي) دویم نوم دی او په انساني روحیه ماحول اثر انداز وي. بېخي دغه رنګه که یو تخلیق کار چرته د خارج نه مواد اخلي یا د کوم سیاسي او سماجي عمل تذکره کوي، نو هم یې د خپل داخلي یا ذاتي خواهشاتو او احساساتو په رڼا کښې کوي. مقصد دا چې نۀ خو داخل بغېر د خارج نه په ځان پوره دی او نۀ خارج بیا د داخل نه څۀ ډېر جدا دی. نو په داسې صورتحال کښې به مونږ کوم یو ته افاقي وایو او کوم یو به مکاني یا وختي ګڼو.

دغـه عمـل د يـو بـل اړخ نـه هـم کتلـی شـو. د ځنو تخليـق کـارانو دا خيـال دی چـې دوي خـو تـش د فـن سـره عشـق کـوي يـا د فنـي صـداقت علـم بـردار دي. د موضـوع سـره خـو د دوي تعلـق ثـانوي دی. نـو يـو تخليـق کـار چـې د فـن سـره عشـق کـوي، افـاقي ګڼـل کېـږي او بـل تخليـق کـار چـې د فـن سـره سـره د بـې کسـه او بـې وسـه اولـس سـره هـم مينـه کـوي، هغـه بيـا حادثـاتي يـا وختي ګڼل کېږي. ګر چې عشق پۀ دواړو صورتونو کښې يو برابر شوی دی.

دغـه خـو مـونږ د عشـق پـۀ بنيـاد د موضـوعاتو د افاقيـت خبـره کولـه. اوس هـم دغـه بحـث لـږ نـور بشـپړ کـوو. دا خـو مسـلمه خبـره ده چـې انسـان افـاقي دی او چـې انسـان افـاقي تسـليم شـو، نـو د انسـان بنيـادي حقونـه بـه ارومـرو افـاقي تسـليمولی شـي. د انسـان بنيـادي ضـروتونه خېټـه، کـور، ازادي، جـنس، جامـه، تعلـيم او صـحت ګڼـل کېـږي. اوس کـه يـو تخليـق کـار د انسـان د داخلـي وارداتـو انځـورګري کـوي او هغـې تـه افـاقي موضـوعات هـم وئيـل کېـږي. او يـو بـل تخليـق کـار لګيـا دی، د خېټـې د معـاملاتو ذکـر پـۀ خپـل تخليـق کښـې کـوي، د ازادۍ، يـا د کـور، يـا د جـامې، يـا د تعلـيم او يـا د صـحت ذکـر کـوي، نـو هغـه ولـې افـاقي نـۀ ګڼـل کېـږي. يـا بـه د نـور وضـاحت د پـاره داسـې ووايـو چـې يـو تخليـق کـار دی چـې هغـه د خپـل ځـان يـا ذات (فـرد) د بشـپړه ازادۍ، د غوښـتنو او مايوسـيو د اظهـار وظيفـه ترسـره کـوي، نـو هغـه افـاقي موضـوع ګرځېـږي او يـو بـل تخليـق کـار دی چـې د خپـل ځـان سـره سـره د نـورو انسـانانو د ازادۍ، غوښـتنو او مايوسـيو د اظهـار کـار هـم کـوي، نـو هغه ولې حادثاتي او وختي او جغرافيايي موضوع ګڼله شي.

تـر اوسـه پـورې مـونږ د ادبـي نقـادانو او تخليـق کـارانو لـۀ خـوا د افـاقي او مکـاني يـا د افـاقي او وختـي پـۀ تـرڅ کښـې د شـوو بحثونـو يـو قسـم لنـډيز وړانـدې کولـو. اوس راځـو چـې د ادب بنيـادي کـردار بانـدې لـږ غـور وکړو. د اردو يو نقاد مجتبی حسېن يو ځای ليکي:

"ادب زمـونږ د ژونـد تـر ټولـو حساسـه رګ دی. دا يـو قسـمه تهـذيبي (RADAR) دی چـې د ژونـد وړوکـې او غټـې ټـولې چپـې وربانـدې چـورلي. ادب مونږ ته دغه چپې ښايي او د راتلونکو خطرو نه مو خبروي"(۵)

دارنګې د يوناني فلسفي هورېس وېنا ده:

,,تاريخ هغه څۀ بحث کوي چې پېښ شوي وي، ولې شاعري (ادب) د هغو ذکر هم کوي چې پېښ کېدونکي وي".(۲)

د دغو حوالو پۀ رڼا کښې کوم يو شاعر يا اديب د خپلې ټولنې، د خپل ماحول او قام تاريخ هېرولی شي ؟. کوم يو شاعر يا اديب د خپل دور، ټولنې، ماحول او قام روان صورتحال هېرولی شي ؟. کوم يو شاعر يا اديب د خپلې ټولنې، ماحول او قام راتلونکی لۀ پامه غورزولی شي ؟.

د افاقيت دغه مسله د طبقو پۀ ترڅ کښې هم پېژندلی کېدی شي. د هرې ژبې ځنې شاعران د برنۍ طبقې نمائنده ګڼل کېږي. او د ټولنې د برنۍ طبقې بنيادي خاصيت دا دی چې هغه د قامي کلتور سره تړون نۀ لري. د خاورې، قاميت، رسمونو رواجونو، ټولنيزو قدرونو، اخلاقياتو، مذهب او نورو پۀ اړه يې تصورات يا ذهني تړون د لاندينۍ يا منځنۍ طبقو نه پۀ بل رنګ وي. د ګړدې نړۍ د برنۍ طبقې کلتور پۀ خپلو کښې سره يو شان والی لري. نو پۀ دغه کليه د يوې ژبې د برنۍ طبقې شاعر د هرې ژبې د برنۍ طبقې نماينده ګڼلی شي. د مثال پۀ توګه به مونږ غني خان يا اشرف مفتون واخلو چې پيدا شوي د پښتون کره دي، نو پۀ دغه وجه يې پۀ پښتو کښې شاعري کړې ده او هم پۀ دغه وجه يې د خپلو سيندونو، خوړونو، غرونو او رغونو نومونه هم ياد کړي دي، خو د فلاسفي پۀ ترڅ کښې د هغوي د شاعرۍ زياتره برخه د نړۍ د هر قام د برنۍ طبقې نمايندګي کولی شي. بل خوا مونږ ولي محمد طوفان يا اجمل خټک اخستی شو چې د وطن د لاندينۍ او منځنۍ طبقو ترجمان شاعران دي. د هغوي پۀ شاعرۍ کښې خو پۀ ظاهره مونږ ته د پښتو ژبې، پښتون قام، پښتون اولس د بربادۍ، تباهۍ، د لوږو، تندو، بې وسو، بې کسو، بې وزلو، کونډو، رنډو، يتيمانانو ارمانونه، خواهشونه او حسرتونه ليدل کېږي، ولې د شاعرۍ بنيادي فلاسفي يې د لاندينۍ طبقې ترجماني کول دي. اوس که يو خوا غني خان يا اشرف مفتون د خپلې طبقې د پاره افاقي شاعران ګڼل کېدی شي، نو بل خوا زۀ پۀ دعوی سره وايم چې ولي محمد طوفان او اجمل خټک هم د خپلې طبقې د پاره افاقي شاعران دي. ځکه چې لکه څنګه د نړۍ په هره ټولنه کښې برنۍ

طبقـه موجـوده ده، دارنګـې منځنـۍ او لانـدینۍ طبقـې هـم هـر چرتـه موجـودې دي او دغـه طبقـې لکـه څنګـه چـې د تـاریخ پـه هـر دور کښـې موجـودې راغلـې دي، دارنګـې بـه پـه راتلـونکي کښـې هـم ترهغـه وختـه پـورې وي، ترڅـو چـې طبقاتي نظام له منځه تلی نۀ وي.

زمـا خپـل خیـال دادی چـې دا مسـله د موضـوعاتو نـۀ ده یـا د داخـل او خـارج ښېخـي نـۀ ده، د فنـي صـداقت ده. فنـي صـداقت د موضـوع سـره نـۀ، موضـوع سـره د شـاعر یـا ادیـب پـه تعلـق پـورې اړه لـري. هـره هغـه داخلـي موضـوع چـې د شـاعر یـا ادیـب د ذات د ړکولـو کارنامـه ترسـره نـۀ کـړي، چرتـه هـم افاقیـت نـۀ شـي ترسـره کـولی. دارنګـې هـره خـارجي موضـوع چـې د شـاعر پـۀ ذات کښـې تحلیـل شـي، د افاقیـت یـوه لـوړه نمونـه ګرځېـدی شـي. فنـي صـداقت د تخلیـق کـار د خوښـې موضـوع پـۀ وجـداني قبولیـت پانـدې منحصـر وي. فنـي صـداقت د تخلیـق کـار د خوښـې موضـوع سـره پـۀ جـذباتي درجـه حـرارت پـورې تـړاو لـري. فنـي صـداقت د تخلیـق کـار پـۀ ذهـن کښـې د خوښـې د موضـوع د پوخـوالي سـره اړه لـري او دغـه شـیان پـه شـعر یـا ادب کښې افاقیت پیدا کوي.

***

## حوالې


1. قلندر مومند او فرید صحرائي، دریاب، این ډبلیو ایف پي (خیبر پښتونخوا) ټیکسټ بک بورډ پېښور، ۱۹۹۴ء، ص: ۵۰
2. عبادت بریلوی، ڈاکٹر، ادب اور ادبی قدریں، لاہور، ادارہ ادب و تنقید لاہور، ۱۹۸۳، ص:۷۵
3. عسکری، محمد حسن، جدیدیت، لاہور، آب حیات،۱۹۷۹، ص:۵۵
4. ممتاز حسین، نقد حرف،، المخزن پرنٹرز کراچی،۱۹۸۵، ص:۹
5. مجتبیٰ حسین، نیم رخ، مکتبہ عالیہ لاہور، بار دوم ۱۹۸۶، ص:۲۱
6. جلالپوری، علی عباس، روح عصر، فکشن ہاؤس، لاہور، بار چہارم ۲۰۰۴، ۷۲